ترتیب کونکی : الحاج داکترامین الدین سعیدی ــ سعید افغانی

۲۸ مارچ ۲۰۲۰

## دجمع لمونځ ترک کول

استاذ دکتور علي محيى الدين د مسلمانانو د علماؤ د نړيوالي اتحاديی عمومی منشي په دینی فتوای کی لیکی :

الله تعالی د ځینو عباداتو په پرېښودو بښنه کوي:

لکه څرنګه چې د اکراه په حالت کی د کفر په کلمه نطق جواز لري، الله تعالی فرمایی : «إِلَّا مَنْ أُكْرِهَ وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ بِالْإِيمَانِ » یعني هغه څوک د الله تعالی د ګرفت څخه مستثنی دی چې د اکراه سره مخامخ شي خو زړه یې په ایمان مطمئن وي.

د دې ايت او نورو ايتونو څخه اوهمدغسی  د نبوي اکرم صلی الله علیه وسلم دسیرت څخه معلومیږی چې دویری او خوف په صورت کی د فرائضو او واجباتو د پرېښودو لپاره یو مقبول عذر دی البته کله چې په خپلوشرطونو برابر وي.

دهغه جملی نه :

۱ـ د لمونځ کونکو تر مینځ د وباء د خپریدو د ډار څخه د جمعي او د جمع لمونځ پرېښودل.

زمونږ فقهاؤ ویلي دي چې هغه ویره او ډار چې له کبله یي جمعه او د جمع لمونځ پرېښودل کیږي په دری قسمه دی:

۱ - دا چې یو سړی د ځان په هلاکت و ډار شي یا د بدن ځینو برخو په تلف وډار شي یا ورباندې کوم تېری کیږي یاهم د سختو وهلو خطر ولري، یاهم د اختطاف یا د بندي کیدو خطر سره مخامخ وي ، یاهم د ځناورو د حملي سره مخامخ کیږی، په دې ټولو حالاتو کی جامع جمات ته چی دغه خطرونه پکی وي پرېښودل جواز لري.

۲ـ دا چې یو څوک د جمعي یا د جماعت د لمونځ په تللو کی د مال د ضایع کیدو خطر سره مخامخ کیږي، بلکه که څوک د خپلي سورلی په هکله ویریږي چې ځناور یی وداړي هم جمعه او جماعت پرېښودل جواز لري.

۳ـ دا چې څوک د جمعي یا جماعت د تللو له کبله د خپل اهل او اولاد په هکله خطر ولري، مثلاً د چا په کور کی یو ماشوم وي او داسې څوک نه وي چې د هغه ساتنه وکړي او یا دا سړی ویره لري که لمونځ په خاطر مسجد ته ولاړ شي یو نږدې انسان د مرستې پرته له مرګ سره مخامخ کیږي او یاهم د شهادت د کلمې د تلقین څخه محرومیږي ګڼ شمیر دلایل شته چې د جمعي لپاره تګ هله واجب دی چې انسان ته نفس په رابطه کوم خطر متوجه نه وي همدارنګه اهل او مال ته یي هم خطر متوجه نه وي، دلایل په لاندې توګه دي:

۱ ـ « وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ» يعني الله پاک پر تاسي په دین کې کوم تنګسي نه ده لازمه کړې، بل آيت کې راځي:

۲ ـ « يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ:» يعني الله تعالى پر تاسو د اسانۍ اراده لري او د سختی اراده نلري.

ابن قدامه وايي: د جمعې او د جماعت په پرېښودو خايف يعني د ډار او ويرې څښتن معذور بلل کيږي، نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: " مَنْ سَمِعَ الْمُنَادِيَ فَلَمْ يَمْنَعْهُ مِنْ اتِّبَاعِهِ عُذْرٌ قَالُوا: وَمَا الْعُذْرُ؟ قَالَ: خَوْفٌ أَوْ مَرَضٌ" يعني څوک چې اذان واوري او د اذان اجابت څخه کوم عذر نه وي منع کړي ، صحابه ؤ و فرمايل : عذر څه شي دی؟ نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د عذر څخه مراد ويره او ناروغي ده.

او خوف او ويره په درې قسمه ده:

۱ـ په نفس ويره

۲ـ په مال ويره

۳ـ په اهل ويره

نو دغه ټولو دلايلو ته په پام سره د وباء ګانو لکه کرونا يا (کوفيد۱۹)د خپريدو پر مهال د جمعې او جماعت لمونځونو ته نه حاضريدل جواز لري ځکه دا ويرونکي وباء ګانی بلل کيږي، خو په دې شرط چې ويره او ډار يقيني وي او صرف يو وهمی شايعه نه وي؛ ځکه د واجباتو پرېښودل تر هغه جواز نلري تر څو غالب ګمان نه وي راغلی.